مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۲۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (نهمه برخه)

### محمد نور علم

په ۱۹۰۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خصوصي تحصیلات لري چې په کندهار کې ئـې تر سره کړي دي. د کندهار د میوې د کمپنۍ مأمور. په کابل کې د دولتي انحصاراتو مأمور. د دفاع په وزارت کې د دیرشو کالو لپاره د پښتو ښوونکی. د دفاع په وزارت کې د پښتو د پرمختګ د پروګرام عمومي مدیر. د «وېښ ځلمیانو» غړی. د دفاع په وزارت کې ئـې د وسله وال ځواک لپاره د پښتو تدریسي کتابونو په چاپ کې مهمه ونډه ولوبوله. تقاعد ئـې واخیست. لور ئـې جهان په لاس انجلس کې چاپ کېدونکي د آزادی د نشریې له مسؤول مدیر زمان ستانيزي سره واده کړی دئ.

### محمد طاهر علمي

د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي رئیس. دی یو خلقی وو چې په ۱۹۸۰ز کال کې د مجاهدینو له پلوه ووژل سو.

### عالمشاهي : وګورئ : نقطه

### سید فقیر علوي

په ۱۹۲۰ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د اماني لیسې ته تللی دئ. له ۱۹۴۷ز کال راپه دېخوا ژورنالیست. په ۱۹۶۰ز کال کې د اصلاح محرر. په ۱۹۵۶ز کال کې د ژوندون محرر؛ د اقتصاد مسؤول مدیر او د انیس مرستیال مسؤول مدیر. د صوفي زاده د کمپنۍ ژباړونکی. مورنۍ ژبه ئـې دري ده، په پښتو او جرمني هم خبرې کوي.

### فقیر نبي الفي

د ولسي جرګې د غړي د غلام نبي الفي زوی په ۱۹۲۱ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۰ز کال کې د حبیبیې له لیسې فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې ئـې د جورج واشنګټن له پوهنتون څخه په مقایسوي حقوقو کې خپله ماستري [1] تر لاسه کړه. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۸ز کال پورې د حبیبیې د لیسې ښوونکی. له ۱۹۴۸ تر ۱۹۴۹ز کال پورې په کندهار کې د احمد شاه بابا د لیسې مدیر. له ۱۹۴۹ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د معارف د وزارت د ښووني او روزني د بورډ غړي. له

[1] -M.C.L – Master of Comparative Law


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۹۵۰ تر ۱۹۵۱ز کال پورې د پولیسو د عمومي بولندوی لپاره حقوقي سلاکار. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د صدارت عظمی د پروتوکول مأمور. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د صدارت عظمی د قوانینو او مقرراتو د تدوین د څانګي افسر؛ او ورسره هممهاله د ملګرو ملتونو او د یو اس ایډ د مرستو تخنیکي مرستیال. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د پلان په وزارت کې د باندنیو مرستو لپاره د رابط دیپارتمنت عمومي مدیر. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د کندز، بغلان، سمنګان، جوزجان او بادغیس والي. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پښتني تجارتي بانک حقوقي سلاکار. په ګڼ شمیر نړیوالو کنفرانسونو کې ئې ګډون کړی دئ. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۳ز کال پورې پاکستان ته لاړ او له مجاهدینو سره ئې همکاري وکړه. اوس د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## هدایت الله الفي

ږ غوایي له پاڅون وروسته، د معارف په وزات کې د پلان جوړولو د څانګي مشر.

## انجنیر اختر محمد عالمي

د اوبو او د برېښنا د وزارت د تخنیکي برخې مشر. ږ غوایي له پاڅون وروسته، د کندهار ولایتي ګوندي کمېټې منشي.

## محمد صدیق عالمیار

د محمد شعیب عالمیار زوی په ۱۹۴۴ز کال کې د جبل السراج په سید خیلو کې زېږېدلی دئ. لومړی زده کړې ئې د کلي په ښوونځي کې بشپړې کړې او په پای کې د پروان د ولایت د چاریکارو د نعمان لیسې ته ولاړ. ځان ئې په کابل کې د تجارت لیسې ته تبدیل کړ او په ۱۹۶۲ز کال کې ورڅخه فارغ سو. د کابل تخنیکي ښوونځي ته د دریو کالو لپاره لاړ او په ۱۹۶۵ز کال کې د میخانیک له څانګي فارغ سو. په هلمند کې ئې له افغان ساختماني دستګاه سره کار وکړ. په ۱۹۶۶ز کال کې د کابل پوهنتون ته د شمولیت له امتحان څخه بریالی راووت او د کابل پولیتخنیک د جیولوژۍ په څانګي کې ئې تحصیلات وکړل. له فراغت وروسته د جیالوجیست په توګه ئې د کانو او صنایعو په وزارت کې کار پیل کړ. دلته له دریو کالو کار وروسته د شوروي اتحاد لپاره ئې یو سکالرشیپ وګاټه او له اتو میاشتو روزني وروسته ئې دیپلوم ترلاسه کړ. د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د خلقي فرکسیون غړی سو. د غوایي له پاڅون وروسته د کانونو او صنایعو په وزارت کې د کانونو د او د سروې د ریاست رئیس وټاکل سو. وروسته د بلخ والي سو. د ۱۹۷۹ز کال د اپریل په میاشت کې د پلان وزیر سو. د تره کي له پرځېدلو وروسته د حفیظ الله امین پلوی سو. د ۱۹۸۰ز کال د جون د میاشتي په ۱۴ نېټې په اعدام محکوم ږله خپل بل ورور عارف عالمیار سره په ګډه د میر اکبر خیبر په قتل کې تورن او دواړه اعدام سول.

**علي احمد لوی ناب :** وګورئ : لوی ناب

## علي اکبر

په ۱۸۹۵ز کال کې زېږېدلی دئ. د سراجیه په پوځي ښوونځي کې ئې تحصیل کړی دئ. په ۱۹۲۴ز کال کې په مسکو کې پوځي اتشه. غند مشر. د امان الله خان د پلوي ډلي د غړیتوب په تور د دریو کالو لپاره زندان ته واچول سو. علي اکبر د نادر شاه په قتل کې، په اعدام محکوم او اعدام سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## علي محمد

ډ بدخشان د آدینه محمد زوی د ۱۸۹۳ز کال په شاو خوا کي زېږېدلی دئ. د امیر عبدالرحمن خان د دربار پیش خدمت. د حبیبیې د ښوونځي یو له لومړیو فارغینو څخه. په ۱۹۲۰ زکال کي ښوونکی. په ۱۹۲۱ز کال کي د ښوونځیو عمومي سرمفتش. په ۱۹۲۳ز کال کي د کابل د لومړنیو ښوونځیو مدیر. په ۱۹۲۴ز کال کي د معارف په وزارت کي د ښوونې او روزنې د ریاست مشر. په ۱۹۲۵ز کال کي د معارف د وزارت مرستیال وزیر ډمعین. په ۱۹۲۶ز کال کي په روم کي افغان مختار وزیر. په ۱۹۲۸ز کال کي د سوداګرۍ د چارو وزیر. په ۱۹۲۹ز کال کي د معارف وزیر. په ۱۹۳۴ز کال کي په لندن کي افغان مختار وزیر. له ۱۹۳۹ تر ۱۹۵۲ز کال پوري د باندنیو چارو وزیر. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۶۳ز کال پوري مرستیال صدر اعظم. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۷۳ز کال پوري د دربار وزیر. دوه ځله ئي واده کړی دی : د غلام محمد میمنګي له لور مېرمن همایوني سره او ډ عزیز الرحمن فتحي/ فاتحي له کونډي « [2] یوې پولندۍ مېرمني سره. مورنی ژبه ئي دري وه. په ۱۹۷۷ز کال کي په کابل کي وفات سو.

## محمد کریم علي

ډ سلطان محمد طلایي د لمسي ډ احمد علي زوی په ۱۹۲۲ز کال کي په کابل کي زېږلی دئ. په ۱۹۴۱ز کال کي د استقلال له لیسي او په ۱۹۴۴ز کال کي له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. په بنګلور کي د ډانجنیرینګ آفیسر ترینګ سکول [3] ته لاړ او له ۱۹۴۵ تر ۱۹۴۷ز کال پوري د ډ هندوستان د روکي سکول آف میلیټري اینجیرینګ [4] ته لاړ. د قوای مرکز په پوځي انجینرۍ کي بریدمن. په صافي او ننګرهار کي ئي په بېلابېلو پوځي پُسوتونو کي کار کړی دئ او په ۱۹۴۸ز کال کي د پوځي انجنیرۍ د دستګاه یاور سو. د لوړو تحصیلاتو لپاره ترکیې ته لاړ او په ۱۹۵۳ز کال کي د استانبول د پوځي انجنیرۍ له ښوونځي څخه فارغ سو. د کابل په حربي اکاډیمۍ کي د پوځي انجنیرۍ په پوهنځي کي استاد. په ۱۹۶۵ز کال کي یو ځل بیا استانبول، ترکیې ته لاړ او له ډترکیش اکاډیمي آف جنرال سټاف [5] څخه فارغ سو. د ډګرمن رتبې ته ئي ارتقاء وکړه او په ۱۹۶۵ز کال کي د حربي پوهنتون د پوځي انجنیرۍ د پوهنځي بولندوی سو. په ۱۹۶۶ز کال کي په مسکو کي د افغان سفارت د پوځي اتشي مرستیال. د تورن جنرال رتبې ته ئي ارتقاء وکړه او په ۱۹۷۴ز کال کي د ملي دفاع د وزارت یاور سو. په ۱۹۷۴ز کال کي د دریو میاشتو لپاره د ولسمشر داوود یاور وو. په ۱۹۷۴ز کال کي د ملي دفاع په وزارت کي د پوځي انجنیرۍ د ریاست رئیس، او په ۱۹۷۵ز کال کي د ودانولو یا ساختماني ریاست رئیس سو. په ۱۹۷۵ز کال کي ئي د ډګر جنرال رتبې ته ارتقاء وکړه. په ۱۹۷۸ز کال کي د اپریل له میاشتي تر آګست پوري د کابل د پل چرخي په زندان کي زنداني سو. وتښتېد، پاکستان ته راغی او له دې ځایه په ۱۹۸۰ز کال کي جرمني ته لاړ او په ۱۹۸۱ز کال کي د امریکا متحده ایالاتو ته راغی.

---

[2] - Fathi

[3]- Engineering Officer Training School

[4]- School of Military Engineering, Rorki, India

[5] - Turkish Academy of General Staff

**منشي عليرضا**

د شاه محمد فيروز کوهي زوی په ۱۸۷۳ز کال کې زېږېدلی دئ. په اسلامي مطالعاتو کې ئې زده کړې کړې دي. د کاتب په توګه په کار مقرر سو. د پارلمان يا د ولسي جرګې په شپږو دورو کې ئې د ميمنې د ولس استازيتوب وکړ. په ۱۹۴۳ز کال کې وفات سو. شاعر او ليکوال.

## عبدالخالق عليل

د ۱۹۸۰ز کال د اپريل د مياشتې په ۱۳ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د افغان فلم رئيس.

**حفيظ الله اليم**

د ميرزا عبدالوهاب غورياني زوی په ۱۹۱۲ز کال کې په غوريان کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۲۱ز کال کې له خپل پلار سره هرات ته کډه سو. په ۱۹۲۸ز کال کې له فراغت وروسته ئې د ماليې په رياست کې کار وکړ. د غوريانو ولسوال او ورسته مالي سکرتر. شاعر. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

**محمد جنيد عليزی** : وګورئ : جنيد

**حاجي نادر علي الله داد**

په ۱۹۳۲ز کال کې د هزاره جاتو په تورکمن درې کې زېږېدلی دئ. يوازې سطحي او په نوم خصوصي زده کړې ئې درلودې. کابل ته راغی او ژوند ئې د بار وړونکي (جوالي)[6] په توګه پيل کړ. مخکې له دې چې خلوېښت کلن سي د ټيکه دارۍ کار ئې پيل کړ او د ولسي جرګې په ديارلسمې دورې کې ئې په غوڅ اکثريت کې له سرخ و پارسا څخه يوه څوکۍ وګټله. د سړکونو او د پلونو د جوړولو ټيکه دار او سرخ پارسا ئې په ملي اقتصاد کې ورګډ کړ. په پارلماني درې - پښتو مباحثو او نانديو کې ئې څرګنده ونده درلوده. په ۱۹۷۳ز کال کې د داؤود له کودتا وروسته له کوم الزام پرته زندان ته واچول سو او په ۱۹۸۰ز کال کې د ببرک کارمل په عمومي عفوې کې راخوشې سو. هزاره جاتو ته ستون سو او په ۱۹۸۱ز کال کې د مجاهدينو لپاره د هزاره جاتو د شمال ختيځو محاذونو بولندوی سو. د «سپاه پاسدار»[7] او د «سازمانِ نصر»[8] او د «شورای – اتفاق»[9] چې دی ئې غړی وو) تر منځ د واک پر سر د شخړو له کبله له تورکمن درې ته ووت. د سپاه پاسدار حاجي نادر علي ئې په سنګلاخ کې بې وسلې کړ او خپل کور کلي ته ئې واستاوۀ چې هلته تر لسو مياشتو پورې بندي وو. د ۱۹۸۳ز کال د سپتمبر په ۱۷ نېټې چې له بند څخه ددۀ د خلاصون ورځ ده د ناپېژندلي سړي له پلوه ووژل سو.

## نور بيا

**الله نواز**

د ملتان هندوستانی دئ. د خان بهادر...

قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

---

[6] - porter (Jowali)
[7] -Sepah-i-Pasdar
[8] -Sazman-i- Nasr
[9] -Shura-i- Ittifaq


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ